


# د ښاغلی اسماعیل یون سره په جرمني کې د افغانانو د کتنې رپوټ

افغان لیکوال او د کابل پوهنتون استاد پوهنمل محمد اسماعیل یون اروپا ته د خپل سفر په لړ کې، د ۲۰۰۸ کال د مارچ په درویشتمه د بن په ښار کې د یو شمیر علمي او فرهنګي شخصیتونو سره وکتل.
غونډه «***د افغانستان اوسنی پرمختیاوې، ستونزې او احتمالي حل لارې***» تر نامه لاندې د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک) په دفتر کې جوړه شوې وه. د جرمني سربیره د هالند، بلجیم او انګلستان هېوادونو څخه هم د فرهنګیانو ځینو استازیو په دغه غونډه کې ګډون کړی وو.

د افغانیک مشر ډاکتر یحیی وردک د یون صاحب په پیژندنې کې وویل:
«*ښاغلی اسماعیل یون هم د فکر، هم د خبرو، هم د قلم او هم د عمل سړی دی.*»
وروسته ښاغلی اسماعیل یون راغلو میلمنو ته په وروستیو اوو کلنو کې زموږ د ګران هېواد په لاندو ټکو خبرې وکړې:

1. سیاسي پرمختیاوې او نیمګړتیاوې
2. اقتصادي = =
3. فرهنګي = =
4. نظامي = =
5. د بهرنیو قوتونو هماهنګي

ښاغلی یون په دغو برخو کې د شته ستونزو په لېرې کولو کښې د بهر میشتو افغاني علمي شخصیتونو په لا زیاته ونده ټینګار وکړ.
بیا یون صاحب افغان حکومت ته د بهرمیشتو افغانانو وړاندیزونه د ځان سره واخیستل او هم یې د دوی پوښتنو ته ځوابونه وویل. او وعده یې وکړه، چې دا نظرونه او وړاندیزونه به تر خپلې وسې پورې مسوولینو او ادارو ته رسوی.
د ناستې په پای کې د افغانیک لخوا ښاغلی یون ته د مننې او د نن ورځې د یادون په توګه د فرانسوي لیکوال انتوان دو سانت ایکزوپیري د "کوچني شاهزاده" کتاب ډالۍ شو.

ښاغلی اسماعیل یون د افغان لیکوالو او فرهنګي شخصیتونو د کتلو لپاره پاریس، بلجیم، هالند، دنمارک او سویدن ته هم ورغی. په دغه سفر کې د ده سره ښاغلی غریب په اروپا کې د افغاني کلتوري ټولنو د ګډې جرګې، ښاغلی امین باوري په بلجیم کې د بهیر د ټولنې، ښاغلی محمد حسن شور په هالند کې د کلتوري ټولنې او ښاغلی نجیب احمدزی په انګلستان کې د فرهنګیانو په استازیتوب هملاري وو.








Afghanistan Information Center-AFGHANIC افغانیک
Justus-von-Liebig-Str 24 | Postfach 1327 | Tel 0228 – 4097630 | info@afghanic.de
53121 Bonn | 53003 Bonn | Fax 0228 – 4097639 | www.afghanic.de